اوونیزه
# معارف
هفته نامه
۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال
سرمایه گزاری در معارف، سرمایه گزاری بر آیندهٔ کشور است
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۳۷ ماه اسد سال ۱۳۹۷

## دکتور محمد میرویس بلخی با سفیر کشور دوست مصر ملاقات کرد



محترم دکتور محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف با محترم آقای هانی صلاح سفیر کبیر کشور دوست و برادر جمهوری مصر در دفتر کارشان ملاقات نمودند آقای بلخی طی سخنان شان از روابط نود ساله بین دو کشور صحبت همه جانبه نموده...

ص۲

سرمقاله:

## خپلواکي ګټل اوساتل پوهه غواړي

خپلواکي هغه ستر نعمت دی چې لاسته راوړل يې ډېرګران دي او هغه ټولنه چې له دې نعمت څخه محرومه وي د يوې سوکاله او پرمخ تللې ټولنې له ټولو آسانتياو او پرمختګ څخه لرې پاتې کيږي خپلواکي هغه ستر نعمت دی چې کوم هيواد يې له نعمت څخه بې برخه وي دهغه هيواد انسانانو ته د انسان په سترګه نه کتل کيږي خپلواکي دهغو پريکړو د عملي کولو امکان دی ، چې يو فرد يا ټولنه يې په خپله اراده ترسره کوي.که يو فرد هره پريکړه عملي کړای شي اوهيڅ بل فرد، جوړښت يا سازمان يې کړنې ، وينا او فکر محدود نه شي کړای ، دې ته مطلقه خپلو اکي وايي.له نيکه مرغه چې زموږ نيکونو ۹۹ کاله مخکې د زمري د مياشتې په ۲۸ مه دغه ستر وياړ د سيمې اونړی له ښکيلاک ګرځواک انګريزانو چې په امپراتورۍ کې يې لمر نه ډوبيده د افغان او انګليس جګړې په پايله کې چې د انګريزی ځواک دماتې سبب شوه دغازي امان الله خان تر مدبرانه لارښوونې لاندې تر لاسه کړ چې نن يې موږ د ۹۹يمې کاليزې دنمانځلو په درشل کې يو. شاه امان الله له جلوس څخه لس ورځې وروسته د عيدګاه جومات ته ولاړ او د خلکوپه منځ کې يې په داسې حال کې چې ډګري کالي يې اغوستي او توره يې ايستلې وه اعلان وکړ چې افغانستان په کورني او بهرني لحاظ يو آزاد او خپلواک ملک دی او هر هغه ځوک چې زموږ خپلواکي د ګوابښ سره مخ کړي پدې توره به يې سر پرې کړم ، شاه امان الله له دغه اعلان وروسته دانګريزانو خواب ته...

ص۲

# د لوی اختر په مناسبت د پوهنې د سرپرست وزير پيغام



د لوی خدای (ج) پر وړاندې د اخلاص او ريښتينولی د تر ټولو ستر ياد (لوی اختر) د رارسېدلو له امله د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مشرتابه، د معارف لويې کورنۍ او ټول مسلمان او متدين ولس ته د زړه له کومې مبارکي وايم.

موږ په داسې حال کې يو له تر ټولو لوی ديني مناسبت نمانځو، چې د وطن په ډېری برخو کې جنګ جګړې روانې او ورځ تر بلې زموږ له لسګونو هېوادوالو قرباني اخلي. دا جنګ جګړې د يو ناتمام کابوس په څېر هره ورځ زموږ د ټولنې تر ټولو نخبه او په علم او پوهې سمبال کسان، چې د وطن د ترقی او پرمختګ لپاره لوی ارمانونه او اهداف لري؛ قرباني کوي او کورنۍ يې د يوه تلپاتې وير په ټغر کېنوي.

راځئ! ددغو ټولو بدبختيو او تورو ورځو د پای ته رسېدو لپاره لوی اختر، چې د حضرت ابراهيم خليل الله د قربانيو، سرښندنو او مبارزو سپېڅلې يادونه او د نړی د ټولو نسلونو لپاره د تقوا، استقامت او اخلاص بېلګه ده؛ بهانه وګرځو او له هغه څخه په الهام خپله ټولنه له اوسني فلاکت او بدبختی څخه وژغورو. په دې لاره کې تر ټولو لوی مسوولیت د پوهنې لويې کورنۍ ته ورګرځي، چې د خپلو دوامدارو هلو ځلو په پايله کې وکولای شي په ټولنه کې د شته ستونزو او بې وزلۍ ټغر، چې له ناپوهۍ او جهل څخه خړوبېږي ټول او ددې خاورې د اوسېدونکو ترمنځ مينه، اخلاص او سوله يېز ژوند بنسټيز کړي. په پای کې يو ځل بيا د لوی اختر د رارسېدو له امله ټولو متدينو هېوادوالو ته د زړه له کومې مبارکي وايم او هيله من يم، چې په نژدې راتلونکي کې په هېواد کې سراسري سوله او ثبات حاکم او د کال ټولې ورځې مو د اخترونو په څېر له خوښۍ او نېکمرغۍ ډکې واوسي.

## تدوير ورکشاپ آموزشی برای معلمين مکاتب صنوف تسريعی

ورکشاپ آموزشی ۳ روزه به منظور بلند بردن ظرفيت کاری معلمين مکاتب صنوف تسريعی معارف ولايت بادغيس داير گرديد.

ور کشاپ متذکره به همکاری رياست معارف و حمايت مالی وتخنيکی موسسه يونيسف براه انداخته شده که به تعداد ۲۹ تن از معلمين مکاتب صنوف تسريعی شهر قلعه نو و ولسواليهای قاديس، مقر و آبکمری درآن اشتراک ورزيده اند که در رابطه به شيوه های تدريس فعال، ونحوه استفاده از مواد آموزشِی وساير موضوعات، دانستنی های ارزشمندی فرا خواهند گرفت.

رئيس معارف از اشتراک کننده گان ورکشاپ خواستار گرديد تا موضوعاتی که در ورکشاپ مطرح می گردد به وجه احسن آنرا در مکاتب شان عملی نمايند.



قابل ياد آوری است، مکاتب صنوف تسريعی به مکاتبی گفته ميشود که برای اطفال باز مانده از روال عادی آموزش ، دو صنف را دريکسال فرا می گيرند.

گفتنی است که مجموعاًدر اين ولايت ۷۶ مکاتب صنوف تسريعی فعال بوده که جمعاً ۱۵۵۰ تن به شمول دختران را از صنف اول الی پنجم تحت پوشش قرار داده که از طرف ۱۰۵ معلم آموزش می بينند.



### د ښوونکي صندوق لايحه معرفي شوه

ص۴



### سرپرست وزارت معارف با رييس اداره تدارکات ملی ديدار کرد

ص۴



### ګرديز کې د لړې پرتو سيمو د زده کوونکو لپاره د ليليې ودانۍ جوړېږي

ص۴

## د بي بي مريم د نجونو لېسې نوې ودانۍ ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه

د ننګرهار ولايت د سره رود ولسوالۍ اړوند د بي بي مريم د نجونو عالي لېسې نوې جوړه شوې ودانۍ د يو لړ مراسمو په ترڅ کې د زده کوونکو پرمخ پرانېستل شوه.

د ياد ولايت د پوهنې رياست مالي او اداري مرستيال سيد عيسی سادات د ودانۍ د پرانېستو له امله د ښوونځي ښوونکو، زده کوونکو او دسيمې اوسېدونکو ته مبارکي ووېله او له ټولو يې وغوښتل، چې دښوونځي ساتنې او مراقبت ته جدي پاملرنه وکړي.

د بي بي مريم د نجونو لېسې نوې ودانۍ د پوهنې وزارت د پرمختيايي بوديجې په څه باندې ۹،۲ ميليونه افغانيو د يوه کال په موده کې په پاخه او اساسي ډول جوړه شوې، چې ۸ درسي ټولګي، ۲ اداري خونې، ۲ تحويلخانې، لابراتوار، د زده کوونکو د اړتيا وړ ميز – څوکۍ او نورې اړوندې ټولې اسانتياوې لري.

د ښوونځي د نوې ودانۍ له پرانېستو سره د يادې لېسې سلګونو نجونو زده کوونکو ته د زده کړو خوندي تدريسي چاپېريال برابر شوی دی.

## سرمقاله:

## خپلواکي ګټل او ساتل...

سترګې به لاره پاتې شو او عملاً يې په پوځي تحرکاتو پيل وکړ اوجنوبي پولوته يې خپل پوځونه واستول ، انګريزانو هم خپله ۳۴۰ زره کسيزه اردو چې په توپونو ، الوتکو ، ترانسپورتي وسايلو ، مخابراتو ، ريل ګاډواو عصري وسايلو سمبال وه دافغانستان جنوبي پولوته را نيږدې کړه ، خو مخکې له دې چې د شاه امان الله خان غازي پوځ په تمامه معنی له دښمن سره جګړه وکړي زموږ دهيواد باتورو خلکو ، قومونو اوقبايلو د ديورند د انګريزي کرښې په اوږدوکې د دښمن ټول پوځي چوني او کلا ګانې ونيولې او انګريزان دافغانستان سره د مساوي حقوقو د درلودلو بر بنسټ د راولپنډۍ دسولې تړون لاسليک کولوته اړشول (۱۸ اګست ۱۹۱۹ ) افغانستان د تړون له لاسليک کولو وروسته خپله خپلواکي په زور تر لاسه کړه. اوس څه بايد وشي چې موږ دخپلې آزادۍ او خپلواکۍ څخه دفاع او ساتنه وکړو؟ دملتونو اوهيوادونو تجربې ښيي چې آزادي او خپلواکي د ملي اتحاد يو موټی اواګاه ملت ،سوکاله ،آزادو اوبرابرو وګړو په اتکا، او د با کفايته زعامت،د ولس په خدمت کې سالمې دولتي اداري ، د ملي وسله وال پوځ موجوديت، لوړدفاعي قدرت، غوړيدلی او خواکمن ملي اقتصاد، مجربې ديپلوماتيکي اړيکې او په ملي ګټو ولاړ فعاله ديپلوماسۍ، په موجوديت کې دفاع اوساتل کيږي.افغانستان دازادۍ او خپلواکۍ او دهغه دارزښتونو او موخو دساتنې او تامين لپاره باالقوه پوره انساني، مادي او معنوي امکانات او زيرمې لري، خو يوازې ديوه پياوړي دولت جوړښت او استقرارته اړتيا ده، چې پورته دندې ترسره شي. دا چې زموږ نيکونو دا خپلواکي په کوم قيمت يا بيه ترلاسه کړي. دا يو څرګند او روښانه حقيقت دی او په خوله بانديې د دې حقيقت ويل چې موږ خپله خپلواکي ګټلې ډيره آسانه خبره ده خو په حقيقت کې دا کار قرباني غواړي له خپل سر او ځان څخه تيريدنه غواړي د دنيا له عيش او نعمت څخه تيريدنه غواړي.

**درنوښوونکو او ګرانو زده کوونکو!** د خپلواکي ګټل او د هغه ساتل ډير ګران دي اوس چې وار زموږ دی له دغه خپلواکي څخه بايد د سر په بيه ساتنه وکړو او دا کار هله شوني دی چې موږ د علم او پوهې په ګاڼه سمبال وو څکه د خپلواکي ساتل په يوه داسې هيوادکې چې وګړي يې دپوهې په ګاڼه نه وي سمبال ناشوني خبره ده علم او پوهه هغه رڼا ده چې د هغې په وسيلې سره موږ سمه او غلطه لاره په آساني سره پيدا کولای شو د دښمن له توطعو او دسيسو به ډير ژر خبريږو او د شنډولو لپاره به يې هم دخپلې پوهې په اساس تدابيرنيسو هلته ده چې موږ به د يوه هوسا او پرمختللي هيواد د بنسټ ډبره ايښې وي پوهنې وزارت د هيواد شرايطو ته په پام سره خپلې هڅې تر بل هر وخت ګړندۍ کړې دي او د هيواد بچيانوته يې د زده کړي، د داسې شرايطو د برابرولو انتظام کړی چې پايلې به يې په نږدې راتلونکې کې په ټول هيواد کې د ليدلو او ستايلو وړ وي پوهنې وزارت له ټولو ښوونکو او زده کوونکو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې په اوسنيو شرايطو کې په خپل ټول قوت سره د زده کړې لاره خپله کړي څکه پرته له پوهي دهيواد پرمختګ ناشونی او له حقيقت څخه لرې کار دی.

بقیه صفحه اول

## دکتور محمد میرویس بلخی...

افزودند: جوانانیکه در مصر تحصیل نموده اند، از جمله بهترین کادر های علمی افغانستان به شمار می روند و همچنان استادان و دانشمندان کشور مصر بدون شک اسلام، صلح دوستی و علوم عصری را به جهان معرفی می نمایند و آنعده از استادان شما که در افغانستان مصروف تدریس فرزندان ما هستند نمونهٔ از اخلاق و ادب می باشند و ما از چهار ماه بدین سو برای آنها بنا به تقاضای خودشان آموزش زبان دری فارسی را آغاز نموده ایم که در اوقات فراغت فرا می گیرند .

بالمقابل آقای هانی صلاح سفیر جمهوری مصر نیز با اشاره به سابقه روابط دوستی هر دو کشور که از ۱۹۲۸ آغاز می شود، گفتند: «مصر در تمام عرصه ها، به ویژه معارف افغانستان را کمک کرده است چنانچه همین اکنون به تعداد ۱۱۰۰ تن محصلان افغانی در مراکز تحصیلات عالی مختلف مصر مصروف آموزش علوم مختلفه بوده و سالانه اضافه از یکصد محصل در مؤسسات تحصیلات عالی مصر با استفاده از بورسیه های جدید تحصیلی معرفی می شوند .

آقای صلاح افزودند: همین اکنون در هفت پوهنتون افغانستان دیپارتمنت های زبان عربی را مساعدت نموده و هم برای هفت شبکه تلویزیونی به شمول تلویزیون ملی افغانستان برنامه ها و سریال های تلویزیونی کمک می نماییم، ۱۵ محراب مسجد جامع را در سراسر افغانستان مساعدت مالی نموده و در صدد آن هستیم تا پیش از پیش همکاری های خویش را با وزارت معارف افغانستان تداوم و گسترش خواهیم داد در این ملاقات علاوه از سفیر مصر، آقای ولید شریف قونسل آن کشور در سفارت مصر مقیم کابل نیز اشتراک داشتند.

## تدویر ورکشاپ برای معلمان اناث ولایت زابل

ورکشاپ شش روزهٔ آموزش های مسلکی جهت آماده سازی اطفال قبل از مکتب، از سوی مؤسسه یونیسف برای ۲۵ تن از معلمان اناثیه مکاتب ولایت زابل دایر گردید.

محترم روزی محمد صدیقی معاون تدریسی ریاست معارف ولایت زابل ضمن سپاسگزاری از مسؤلان مؤسسه یونیسف از مشمولان ورکشاپ خواستند تا از محتوای ورکشاپ استفاده اعظمی نموده تا باشد در صنوف درسی از آن در راستای تعلیم و تربیه اطفال به وجه احسن کار گرفته شود.شایان ذکر است که در این ورکشاپ معلمان میتود های آشنایی اطفال با کتاب، قلم را آموزش دیده و هم می آموزند که چگونه اطفال را برای رفتن به مکتب از نگاه ذهنی، روحی و جسمی آماده سازند.

البته باید یادآور شد که آموزش میتودها و شیوه های جدید تعلیمی و تربیتی در این ورکشاپ توسط استادان و ترینران که از جانب مؤسسه یونیسف گماشته شده اند پیش برده می شود.

## نقش آموزش حرفه برای سواد آموزان

یکی از اهداف اساسی دولت همانا امحای بی سوادی در کشور و تعمیم سواد و علم درمیان هموطنان عزیز ما می باشد از بدو ایجاد دولت نوبنیاد جمهوری اسلامی افغانستان همانطوریکه به تعلیم اطفال و جذب آنها به مکاتب و مدارس توجه جدی صورت گرفت ب همان پیمانه به خاطر باسواد سازی آنعده هموطنان ماکه متاسفانه بنا به معاذیر و مشکلات مختلف ازنعمت سواد محروم مانده اند نیز تدابیر عاجل و علمی گرفته شده است. ازآنجائیکه برهمگان مبرهن است و ضعیت مالی شماری زیاد ازهموطنان ما ضعیف بوده که نیاز به اشتغال نیز دارند بنأمعینیت سواد آموزی تحت رهبری خلاقانه رهبری وزارت معارف افغانستان و در همکاری و حمایت مالی و تخنیکی جامعه جهانی و با استفاده از تجارب کشورهای نظیر افغانستان تصمیم گرفت تا آموزش حرفه را هم در کنار یاد گیری سواد که خواندن، نوشتن و حساب کردن است تدریس شود تا آنعده سواد آموزانیکه به خاطر پیدا کردن یک کار و اشتغال مطمین نیاز جدی به مهارت های تخنیکی و مسلکی دارند بروفق ضرورت های منطقوی آنها حرفه های از قبیل مرغداری، پرورش ماهی، تهیه لبنیات، باغداری، خیاطی، صحت وکمک های اولیه و زنبورداری شامل برنامه های آموزشی آنها گردد تاهمراه با آموختن سواد در یک مسلک هم مهارت پیدا نموده و با گشایش کارگاه های تولیدی شخصی و ترمیماتی نه تنها برای خود و خانواده خود نفقه حلال بدست بیاورند بلکه زمینه کار را برای جوانان دیگر هم مهیا نمایندچنانچه معینیت سواد آموزی وزارت معارف جهت تحقق این آرمان والا در کشور به ویژه برای هموطنان عزیز بی سواد ما که نیاز به آموزش و یا گیری مهارتهای تخنیکی و مسلکی داشته و بیکار اند به همکاری مالی و تخنیکی دفتر یونسکو نصاب تعلیمی و کتاب های جدید درسی برای سواد آموزان همراه با آموزش یک حرفه تهیه و آماده نموده است قرار است که این کتاب های جدید برای بار اول به صورت تجربوی برای ۲۱۰۰۰ جوان و بزرگسال که دوره ۹ ماهه سوادآموزی عمومی را قبلاًتکمیل نموده اند در ۱۴۷ ولسوالی شامل ۳۰ ولایت کشور آموزش داده شود. شایان ذکر است که این کتاب ها در هشت بخش زنبور داری، مرغداری، لبنیات سازی، خیاطی، پرورش ماهی، صحت وکمک های اولیه، باغداری و تجارت شخصی تالیف چاپ و آماده تدریس می باشد. گفتنی است که کتاب های یاد شده سواد آموزی توام با یک حرفه به مقایسه کتب قبلی سواد آموزی در کشور بیشتر به صورت قابلیت محوری طراحی و تدوین شده که می تواند برای فارغان برنامه سواد آموزی عمومی ممد واقع شده و فرصت آموزش یک حرفه را درکنار تقویت مخارت خای خواندن، نوشتن، و حساب کردن فراهم می سازد که بعد از فراغت چنانچه که گفته شد از طریق اشتغال زایی بهبود وضعیت مالی خانواده ها و توسعه اقتصادی جامعه و کشور نقش ملی خود را ایفا می نماید تا باشد ازین رو ضمن با سواد شدن آنها تغییرات مثبتی در زندگی آنان رونما گردد.

**عبدالصبور غفرانی**

## د خسرو اباد ښوونځي د نوې ودانۍ د جوړېدو چارې پیل شوې

د هلمند د ناوې ولسوالی په خسرو آباد غربي سيمه کې د يوې اته ټولګيزې ودانۍ د بنسټ ډبره د يو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه .

په دغو مراسمو کې د هلمند د پوهنې رئيس داود شاه صفاري، د ولايتي شورا رئيس، د ناوې ولسوال، د سيمې يو شمير قومي مشرانو، ښوونکو، زده کوونکو او يو شمير نورو چارواکو برخه اخيستې وه .



د ياد ولايت د پوهنې رئيس داود شاه صفاري وايي، چې د خسرو آباد غربي ښوونځي نوې ودانۍ به اته درسي ټولګي، خلور اداري خونې، ۳۵۴ متره د احاطې ديوال او نورې اړوندې ښوونيزې آسانتياوې ولري .

د نوموړي په خبره، چې د يادې ودانۍ رغنيزې چارې د شاوخوا لسو کاري مياشتو په ترڅ کې بشپړيږي، چې نژدې ۹،۹ ميليون افغانۍ لګښت به پرې راشي .

د پوهنې مسوولينو او سيمه ييزو چارواکو د سيمې له خلکو او قومي مشرانو وغوښتل، چې د يوې ښې راتلونکې په موخه خپل اولادونه په ښوونځيو کې شامل کړي او د پوهنې وزارت د پروګرامونو په پلي کېدو کې له دې وزارت سره هر اړخيزه مرسته او همکاري وکړي

# آزادی

مردم حق دارند در هرکجای دنیا که باشند در برابر حکومتی که نمی‌خواهند، برپا خیزند و آنرا به زیر کشند تا حاکمیتی که خود را لایق آن می‌دانند برپا کنند. این «حق» تنها نیرویی است که می‌تواند همه جهان را آزاد کند

بیشتر مردم علاقه چندانی به آزادی ندارند، چون آزادی مستلزم و در بر گیرنده ی مسئولیت است و بیشتر مردم از مسئولیت واهمه دارند

هر بار دل خویش را سخت به بند کشیم و اسیر کنیم، می توانیم به جان خویش، آزادی های فراوانی بدهیم. کسی حرف مرا باور نمی کند، مگر آنکه از پیش آن را بداند.

آن کس که می خواهد آزاده باشد، تنها از طریق توانایی های خود می تواند آزاده شود.

آزادی نه چنان است که یک یا دو بار شکست، یا بارها شکست، یا بی اعتنایی و حق ناشناسی مردم، یا پیمان شکنی، و یا صف آرایی سر نیزه های زور و قدرت و سربازان و توپها و قوانین جزایی، آن را سرکوب کند و از میان بردارد .

تنها کسانی سزاوار و شایسته ی درک آزادی و زندگانی هستند که بدانند چگونه هر روز بر مشکلات زندگانی و آزادی غلبه کرده و آزادی و زندگانی نوینی را به چنگ آورند..

انسان تا وقتی می تواند خودش باشد که تنها باشد، و اگر او تنهایی را دوست نداشته باشد، آزادی را هم دوست نخواهد داشت چرا که فقط وقتی تنهاست واقعا آزاد است ..

**ارسالی: حسیبا سنگین**

# خورشید منبع اصلی ویتامین D

نور خورشید از جمله منبع اصلی تامین کننده ویتامین «د» است و کمبود این ویتامین موجب شکل گیری امراضی از جمله دردهای استخوانی و عضلانی می شود.

ویتامین «د» تنها نوع ویتامینی است که هورمون نیز محسوب می شود، این ویتامین برای محکم کردن استخوان ها و دندان ها مفید است و همچنین به حفظ قدرت عضلانی و جذب کلسیم بدن کمک می کند

شاید تاکنون به این موضوع خوب فکر نکرده ایم که مستقیم در برابر نور آفتاب عالم تاب قرار گرفتن چه فوایدی دارد اما برای اینکه به بیماری های مختلف ناشی از کمبود ویتامین «د» مبتلا نشویم ، بهتر است تا دیر نشده به فکر چاره باشیم.

این روزها با وضعیت آپارتمان نشینی کمتر کسی به این مقوله توجه می کند اما می شود برای جبران کمبود ویتامین «د» مورد نیاز بدن خود، جلوی بسیاری از بیماری ها را بگیریم تا در آینده با مشکلات بیشتری رو به رو نشویم

به گفته کارشناسان علم تغذیه، هر چند می توان ویتامین «د» را از طریق مکمل های غذایی همچون ماهی، غلات و یا شیر غنی شده کسب کرد، اما به منظور تامین این ویتامین مورد نیاز باید در معرض نور آفتاب قرار گرفت.

براساس پژوهش های صورت گرفته، حدود ۷۵ درصد از افراد مبتلا به ضعف عضلانی دچار کمبود ویتامین «د» هستند.

همچنین تحقیقات نشان داده که کمبود ویتامین «د» خطر ابتلا به بیماری های قلبی و عروقی را دو برابر افزایش می دهد و اشخاصی که میزان دریافت ویتامین «د» در آنها ضعیف است بیشتر از دیگران در معرض ابتلا به بیماری دیابت، چاقی و بیماری های قلبی و عروقی قرار دارند.

همچنین در بررسی های اخیر روی زنان مبتلا به پوکی استخوان که به دلیل شکستگی های استخوان لگن در بیمارستان بستری شده اند، مشخص شده است در ۵۰ درصد موارد این زنان با مشکل کمبود ویتامین «د» مواجه بوده

ابتدا باید از کرم ضد آفتاب استفاده کرد.

افراد که پوست های تیره تر دارند تا حد ۴ الی ۵ بار در طول هفته می توانند در معرض نور خورشید قرار گیرند .

افرادی که پوست روشن تری دارند تا حد ۳ مرتبه در هفته می توانند در معرض نور خورشید قرار گیرند چون نور افتاب در پوست های روشن تر سبب پیری زود رس میشود

نور خورشید پیش از حد سبب سرطان جلدی میگردد

**ارسالی: دنیا**

# اختر

ستړی ستومانه شوم په ډېرو اندیښنو اختر کې

خاونده!! شمارم پیوندونه د جامو اختر کې

د انتظار پښو ته نکریزې جوړوم لګیا یم

تنکۍ تنکۍ پاڼې راوړم ستا د وعدو اختر کې

یوې جینۍ یو مسافر ته په ژړا کې ویل

مونږ به د یو بل تصویران ګورو ترخو اختر کې؟

دومرو بې وسه وم شعرونه مې خپل وسوزول

رانجه مې جوړ کړل ترینه تاته له ایرو اختر کې

د ارمانونو جنازې وربانـدې وړو او راوړو

فرښتې نه کینې زمونږه په اوړو اختر کې

باقره! ژوند مې د غمونو په دربار کې تیر کړو

باران د اوښکو مې په مخ راوریدو اختر کې

رالیږونکي: حمید

# عید آمد

بوی عید آید همی از موی مشک افشان تو

کام دل خواهم به جان از لعل چون مرجان تو

در شبان تیره بینم تا سحر چون صبح عید

بزم دل گردیده روشن از رخ رخشان تو

عید قربانست و هرکس بره یی قربان کند

من بر آنم تا نمایم جان خود قربان تو

حاجیان در کعبه گل پای کوبان در طواف

ناجیان در کعبه دل سر خوش از سامان تو

حاجیان را گر بود خورشید بر سر سایبان

ناجیان را هست بر سر سایه احسان تو

حاجیان گردیده از راه نعم مهمان حق

ناجیان گردیده بر خوان کرم مهمان تو

حاجیان جویند نام از حرمت بیت الحرام

ناجیان یابند کام از رفعت ایوان تو

در مقام کعبه کویت ز جان گشتم مقیم

تا بدیدم آب زمزم در لب خندان تو

تیر بهران فلک در کیش ماند جاودان

گر به میدان صلابت بنگرد جولان تو

هر کتابی را ز حق آورده هر پیغمبری

شرح و بسط آن بود در دفتر دیوان تو

گر حکیمی همچو لقمان در جهان پیدا شود

از قضا آورده بر کف لقمه یی از خوان تو

ارسالی: ولوله

# سلام

**محمد اکرم وفادار**

د ګران هېواد ولسواکۍ او آزادۍ ته سلام

پرې ده حاکمه دغې لوې خپلواکۍ ته سلام

په حماسو د شا زلمیانو چې ګټلې ده مونږ

په ککریو باندې لوبې وې خوښۍ ته سلام

اعزازی نده، تحفه نده، شوه بدیل د وینو

د اتلانو، ارواګانو قربانۍ ته سلام

د خپلواکۍ نغمې خورې وې ګوټ په ګوټ د وطن

په سوبه، بزم، حماسو و پرونۍ ته سلام

کلکه یې ساتم آزادي زمونږ میراث دی ملي

په عزم بزم د غازیانو ننۍ ته سلام

دا وجیبه ملي ساتنه یې زمونږ په غاړه

توره یې واخسته په لاس کې ملالۍ ته سلام

دی تاریخ ساز دي هر قدم د کړنو تولو سره

لاس ته راوړنې دي په کال او میاشتنۍ ته سلام

سلام، سلام، د ګران هېواد سنګر دارانو لره

په هرقدم دهراتل فداکارۍ ته سلام

# منا

دل سفر کن در منا و عید قربان را ببین

چشمه‌های نور و شور آن بیابان را ببین

گوسفند نفس را با تیغ تقوی سر ببر

پای تا سر جان شو و رخسار جانان را ببین

سفره ی مهمانی خاص خدا گردیده باز

لاله ی لبخند و اشک شوق مهمان را ببین

دیو نفس از پا درافکن، سنگ بر شیطان بزن

هم شکست نفس را، هم مرگ شیطان را ببین

تیغ در دست خلیل و بند در دست ذبیح

حنجر تسلیم بنگر، تیغ بران را ببین

کارد تیز و دست محکم، حلق نازک‌تر ز گل

پای تا سر چشم شو، اخلاص و ایمان را ببین

خاک گل انداخته از اشک چشم حاجیان

در دل تفتیده ی صحرا، گلستان را ببین

آتش گرما گلستان گشته چون باغ خلیل

در دل صحرا صفای باغ رضوان را ببین

روی حق هرگز نگنجد در نگاه چشم سر

چشم دل بگشا جمال حی سبحان را ببین

**ارسالی: نجیم**

Weekly Marif Newspaper



Established 2002, Issue No 237, Month – August 2018
Ministry of Education Cultural and Social Issue

## د ښوونکي صندوق لایحه معرفي...

د لومړي مخ پاتې

پوهنې وزارت د ښوونکي صندوق د پور ورکړې لایحه، چې له مخې به يې ښوونکي وکړای شي په ټول هېواد کې له یاد صندوق څخه د خپلې اړتیا وړ پور واخلي؛ رسماً اعلان کړه.

دغه لایحه په ۴ فصلونو او ۱۰ مادو کې د پوهنې وزارت د علمي شورا او مالي او اداري رياست لخوا جوړه شوې، چې پکې له یاد صندوق څخه د پور اخیستلو اړوندې لارې چارې په ګوته شوې دي.

؛د پوهنې وزارت سرپرست ښاغلي ډاکټر محمد میرویس بلخي د یادې لایحې په معرفي غونډه کې یادونه وکړه، چې له دې وروسته په ټول هېواد کې ښوونکي کولای شي ددې لایحې پر بنسټ د ښوونکي له صندوق پور واخلي او خپلې شته ستونزې تر يوه بریده هوارې کړي. هغه له اړوندو مسوولینو وغوښتل، چې د لایحې محتوا او د هغې ګټې او مزایاوې تر ټولو ښوونکو ورسوي.

ښاغلي بلخي د ښوونکو د معاشونو سیستم د عصري کېدو او ښه والي په تړاو د هڅو یادونه وکړه او ډاډ يې ورکړ، چې په دې برخه کې به شته ستونزو او مشکلاتو ته د حل عملي لارې چارې ولټول شي.

د پوهنې سرپرست وزیر زیاته کړه، د ښوونکو معاشونه سره له دې چې کم دي پر وخت هم نه رسیږي او نور بانکونه هم ښوونکو ته پور نه ورکوي؛ نو له همدې امله موږ د ښوونکو د ستونزو د عملي حل لپاره اقدام وکړ او دغه لایحه مو ترتیب او منظور کړه، چې پر بنسټ يې ښوونکي کولای شي له یاد صندوق څخه پور واخلي او خپلې اړتیاوې پوره کړي. نوموړي که څه هم ددې صندوق مالي امکانات کم وبلل، خو بیا يې هم يو عملي



ګام یاد کړ او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کابینې له غړو چې خپل د یوې میاشتې معاش يې له صندوق سره مرسته کړې او له نورو ټولو هغو خیرخواه هېوادوالو چې مرسته يې کړې؛ مننه او قدرداني وکړه.

ښاغلي بلخي د یادې کړنلارې په جوړېدو کې د وزارت د علمي شورا او مالي او اداري رياستونو له هلو ځلو هم مننه وکړه.

د یادولو وړ ده، چې ښوونکو ته د پور ورکړې دغه لایحه څلور فصلونه او لس مادې لري او له نافذېدو سره يې په دې برخه کې شته پخواني احکام ملغی ګڼل کیږي.

## ګردېز کې د لرې پرتو سیمو د زده کوونکو ...

د لومړي مخ پاتې

د پکتیا ولایت د مرکز ګردېز په غازي ببرک خان عالي لیسه کې د لیلیې د یوې مجهزې ودانۍ د جوړېدو چارې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پیل شوې.

د ودانۍ د بنسټ ډبره د پکتیا د والي ښاغلي شمیم خان کټوازي، د ولایتي شورا د رئیس، د پوهنې مسوولینو او یو شمېر نورو سیمه ییزو چارواکو



لخوا کېښودل شوه.

د لیلیې یاده ودانۍ، چې د یو کال په ترڅ کې په پاخه او اساسي ډول جوړیږي ۷۶ د اوسېدو خونې او نورې اړوندې ټولې اسانتیاوې به ولري. د پکتیا د سیمه ییزو چارواکو په وینا، چې دغه ودانۍ په څلورو پوړونو کې په اساسي ډول جوړیږي او شاوخوا ۴۶ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي.

دا ودانۍ به د لرې پرتو سیمو هغو زده کوونکو لپاره وي، چې د لارې د لرې والي او یا هم نورو دلایلو له امله نشي کولای ښوونځیو ته ولاړ شي او خپلې زده کړې سرته ورسوي.

ددې ودانۍ له جوړېدو او پرانېستو سره به د یاد ولایت د لرې پرتو سیمو ګڼ شمېر زده کوونکو ته د زده کړو اسانتیاوې برابرې شي.

## سرپرست وزارت معارف با رییس...

بقیه صفحه اول

دوکتور محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف در دیدار با رییس اداره تدارکات ملی تاکید



کرد که دیگر فساد در این وزارت جا نداشته و تمامی فعالیت های وزارت معارف در شفافیت صورت می گیرد.

سرپرست وزارت معارف در این دیدار روی تسریع پروژه های تدارکاتی این وزارت از جمله چاپ کتب درسی تاکید نمود.

انجنیر الهام عمر هوتکی رییس عمومی اداره تدارکات ملی نیز فعالیت های وزارت معارف به ویژه روند عملی سازی پروژه های تدارکاتی این وزارت را ستایش کرده در مورد امور تدارکاتی چاپ کتب درسی، تهییه و قرار داد مواد ارتزاقی خوابگاه های مربوط به مراکز تعلیمی و تربیتی وزارت معارف با دوکتور محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف گفتگو و تبادل نظر کرد.

## اعلامیه مطبوعاتی وزارت معارف

حمله انتحاری در مرکز آموزشی موعود درمیان دانش آموزان، تهدید جدی در برابر آموزش و مراکز تعلیمی است.

وزارت معارف افغانستان در حالیکه با خانواده قربانیان این حادثه ابراز غم شریکی نموده و شفای عاجل و کامل برای زخمی ها از خداوند بزرگ تمنا دارد، شدیداً از حمله به مراکز آموزشی نگران است .ما درحالیکه پیش ازین شاهد بسته شدن ویا آتش زدن مکاتب در برخی ولایات کشور بودیم و تا حدودی موفق شدیم این روند را به کمک بزرگان قومی و شخصیت های تاثیر گذار در ولایات کشور، مهار کنیم، اما حمله اخیر نگرانی شدید رهبری وزارت معارف افغانستان را در پی داشته است .انتظار ما اینست که مکاتب و مراکز آموزشی بشمول ساحات ملکی و عام المنفعه از خطر جنگ و خشونت، مصئون باشد.

## سنگ تهداب تعمیر یک باب مکتب در ولایت سمنگان گذاشته شد

سنگ تهداب مکتب ابتداییه حاجی امان الله قندهاری شهر ایبک ولایت سمنگان توسط محترم عبدالطیف ابراهیمی والی ولایت و عبدالمتین سروری رییس معارف آنولایت درحالیکه تعدادی از روسای ادارات دولتی، متنفذین قومی، استادان وشاگردان حضور داشتند گذاشته شد .

تعمیر متذکره بصورت پخته و اساسی در یک طبقه به مصرف مجموعی ۴،۷ میلیون افغانی از بودجه غیر مشروط ولایتی در



مدت یک سال اعمار می گردد، که دارای ۶ صنف درسی، دو اتاق اداری با سایر ملحقات ضروری آن میباشد.

قابل یاد آوریست که با اعمار تعمیر متذکره زمینه آموزش بهتر برای شاگردان این مکتب مهیا خواهد شد.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت